اطلاعاتو ته لاسرسي د روڼتیا او ښې حکومتوالی نښه ده

اطلاعاتو ته لاسرسي کمیسون ژمن دی چې د اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په رڼا کې له وړاندې خپلې کړنې او اجرات خپاره کړي.

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسسون کې د لیندۍ له۳۰ د مرغومي تر ۱۲ پورې مهم تر سره شوې فعالیتونه.

#تخنیکي_سلاکار:

۱- د سیمه ییزو ارګانو خپلواکې اداري په پروګرام کې د پرزنټیشن وړاندې کول.

۲- د کلیو بارغونې او پراختیا وزیر سره په کتنې ګډون او د کنړ ولایت د بولډر وال اړوند پروژې په هکله د یاد وزارت څخه د اطلاعاتو غوښتنه او لاسته راوړل.

۳- د ۲۲مې ناحیې په پروګرام کې ګډون.

۴- و ویب سایټونو او اطلاع رسونې له مرجع څخه د څارنې فورم د وتساپ له لارې د ګروپ ټولو ګډونوالو ته واستول شو او یاد.

۵- د کمیسیون د کلنې راپور کابو ۶۰ سلنه بشپړول.

#حقوقي_سلاکار:

۱- د څلورمې ربعې راپور جوړول او کمیسون ته سپارل.

۲- د کمیسون جقوقي سلاکار څلور میاشتنی کاري راپوربرابرول.

۳- د کمیسون د غړو د غونډو د تنظیم لپاره په کړنلاره کار کول.

۴- د ولسمشرۍ مانۍ د فساد پر وړاندې د مبارزې سکرتریت ته د کمیسون د څلورمې ربعې راپور لیږل.

۵- د کلنې راپور جوړول د فساد پر وړاندې د مبارزې پلان په اساس.

۶- د کمیسون د نغدي معتمد د نه ګمارلو دلیلونو برابرول او د ولسي جرګې د شکایاتو کمیسون ، د ملکي خدمتونو او اداري اصلاحاتو اداري شکایاتو بورد ته لیږل.

#سکرتریت:

۱- د کمیسون د کارکوونکو د کاري پلانونو او راپورونو جوړول.

۲- اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسون د غړو د غونډو او لیدنو تنظیمول.

۳- د کمیسون دفتري تلفوني اړیکو ته ځواب ورکول.

۴- له وزارتو د مکتوبونو اخیستل او په صادره او وارده کتاب کې یې ثبتول.

#عامه_پوهاوي_برخه:

۱- د سیمه یزو ارګانو مستقلې اداري کې اطلاعاتو ته دلاسرسي قانون په اړه د پوهاي پروګرام.

۲- د ارتقا کنفرانس په یرانستغونډه کې د کمیشنرانو د ګډون په اړه له تلنت دفتر سره همغږي کول.

۳- د جمعي په ورځ د ارتقا په کنفرانس کې د اطلاعاتو ته لاسري په رول همغږي کول.

۴- عکاسي، د راپورنو برابرول اطلاعاتو ته د لاسرسي په اړه د پوهاوي له پروګرام نه د سیمه یزو ارګانونو په مستقله اداره کې او خپرول یې په فیسبوک پاڼه.

۵- په ۲۲ ناحیه کې اطلاعاتو ته لاسرسي قانون په اړه د پوهاوي پروګرام جوړول.

۶- په سرینا هوټل کې د عالیست-افغانست په پروګرام کې د غرفې جوړول او ۱۰۰۰ټوکه قانون، ۱۰۰۰بروشر، ۱۰۰ د اطلاع رسوني فورمونه،۱۰۰ د اطلاعت غوښتنې فورم او ۱۰۰ د شکایتونو فورمونه وویشل شول.

۷- په سرینا هوټل کې د پروګرام له پنل نه عکاسي کول او راپور برابرول، په ۲۲ناحیه کې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په اړه پروګرام او د ښاغلي حمدالله ارباب لیدنه له د کلو او بیا رغونې وزیر سره په فیسبوک او ویب پاڼه خپرول.

#بشري_منابعو_برخه:

۱- د ښاغلي ولید احمد د دریېم بست نوماند د تقریري ازموینې د پایلې په اړه شکایت ته رسیده ګي.

۲- د دارلانشأ ریاست ته د نوماندانو له ۳۰ زیاتو فورمونو ځېړل.

۳- د ولایتي اړیکو د ازموینې لپاره له اداري اصلاحاتو اداري سره همغږي کول او د څارونکي ګمارل.

۴- د ازموینې له ځای او وخت څخه د نوماندانو خبرول.

۵- د ولایتي اړیکو آمریت لپاره د تقریري ازموینې اخیستل.

۶- نوماندانو ته د پایلو اعلانول.

۷- د بالمقطع کارکوونکو د تمدید لپاره د قراردادونو ځېړل.

۸- د منابع بشري کارپوه ۴بست ته د لانګ لیست ترتیبول.

۹- شکایتونو ته د رسیده ګی آمریت ۳بست ته د لانګ لیست ترتیبول.

۱۰- د دارالانشأ ریاست ته د نوماندانو فهرست ترتیبول.

#مالي_او_حسابي_برخه:

1- د کمیسیون د تجهیزاتو له جملې نه د رهبری دری دفتري میزونه چک او ډیپو ته تسلیم شول.

2- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته د کمیسیون د مالی او اداري طرحې ګزارش ولیږل شو.

3- د کمیسیون مالي او اداري طرحه په مالیې وزارت کې نهایي شوه، او دنورو اجراآتو لپاره د مالیي وزارت او اداري اصلاحاتو کډې کمیتې ته د تائید لپاره واستول شوه.

4- مختلفو آمریتونو ته د څلورمې ربعې قرطاسیه توزیع شوه.

5- د کمیسیون د ګازو حواله د قراردادي حساب ته ولیږدول شوه.

#شکایتونو_برخه:

۱- د هلمند شهیدانو او معلولینو آمریت د ۱۳۹۷ کال بودجې او کړنلارې په اړه، د مدني ټولنې د همغږۍ مرکز او د کار او ټولنیزو چارو وزارت لخوا د اطلاعاتو نه ورکړې لپاره د مکتوب لیږل.

۲- نی ته، د نفوسو د ثبت اداري لخوا د اطلاعاتو نه ورکړې شکایت ځېړل.

۳- د کورنیو چارو وزارت نه د پژواک خبري اژانس شکایت ځېړنه، چې اطلاعات غوښتونکي ته یې نیمګړې اطلاعات ورکړي، نو خبري اژانس په دې اړه تصمیم نیوونکی دی چې یاد شکایت ځېړي که ترې تېرېږي چې له خپل تصمیم نه یې کمیسون خبر کړی.

۴- د اړیکي له لارې ملي دفاع وزارت نه د ورځنې اطلاعاتو په اړه شکایت ځېړل.

۵- د ولسمشرۍ ماڼۍ د چارو اداري نه د ښاغلي نیازي شکایت ځېړل او د غوښتل شوي اطلاعات ورکړل شول او شکایت وتړل شو.

۶- د میرویس رسولي شکایت، پوهنې وزارت نه د شکایتونو د ډېټابس په هکله، د اطلاع رسوني او اطلاع غوښتونکي همغږۍ نه وروسته غوښتل شوي اطلاعات اطلاع غوښتونکي ته وسپارل شول او شکایت وتړل شو.

۷- د مدني ټولني د همغږۍ مرکز کمېټي شکایت، د هلمند شهیدانو او معلولینو آمریت په هکله، اطلاع غوښتونکي ته اطلاعات ورکړل شول.

#تدارکاتو_برخه:

۱- د افغان تیلي کام مخابراتي شرکت سره اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسون د ۱۳۹۹ مالي کال د انترنت لپاره د اړینو تجهیزاتو په اړه غونډه.

۲- اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسون لپاره د ۱۳۹۹ مالي کال د کرولا او پکنیک موټرو د کرایي وړاندیزونو څېړنه.

۳- د تدارکاتو ملي اداري ته د زرهي موټرو د قراردادونو کاپي رالېږلو لپاره د مکتوب څېړل .

۴- اطلاعات او فرهنگ وزارت ته مکتوب لېږل. د اخیستل شو جنسونو د بلونو کاپی رالېږل اطلاعات ته د لاسرسي کمیسون ته.

۵- اطلاعات او فرهنگ وزارت کي اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسون د وړاندېزونو څېړل.